# د باچا خان او ولي خان بابا

# د سپاهيانو تاريخي کردار

ابراهيم د ډبولۍ سوات

کۀ د پېرنګي خلاف د وطن د ازادۍ جنګ ؤ او کۀ د ازادۍ نه وروستو د وخت د اٰمرانو، او غاصبانو په ضد د وړو صوبو، مظلومو قومونو او خپلې اولس د حقونو د حصول دپاره هلې ځلې وې. کۀ د سندهـ، بلوچستان، پښتونخوا د خدشاتو او تحفظاتو مطابق د کالاباغ ډېم خلاف اواز اوچتول وو او کۀ قوم کښې اګاهي پېدا کول وو او کۀ ملک کښې د جمهوري نظام، پارلېمنټ د بالادستۍ او د قانون د حکمرانۍ خبره وه. د تاريخ پاڼې ګواه دي چې په دغه ټولو اهمو موقعو او حساسو موضوعاتو باچا خان، خدائي خدمتګارانو، ولي خان او د هغوي سپاهيانو تاريخي رول لوبولے دے خو افسوس! په ځائے د دې چې د وخت حکمرانانو د دغې سپېځلو مشرانو په مشورو او تجويزونو غور او فکر کړے وے اپوټه ئې په هغوي باندې قسماقسم تورونه ولګول.



نن چې په ټوله نړۍ کښې عموماً او پاکستان کښې خصوصاً د القاعده، طالب او دهشت ګردۍ په نوم څۀ روان دي او زمونږ اولس د کومو ستونزو سره مخ دے، په دې حواله دغې سپېځلو مشرانو شل پنځۀ ويشت کاله مخکښې چې کومې پېشګويانې کړې وې او د وخت حکمرانانو ته ئې خبردارے ورکړے ؤ چې په افغانستان کښې کومه لوبه روانه ده، دا جهاد نۀ دے بلکې د افغانستان په خاوره د امريکې او روس د مفاداتو جنګ دے او مونږ له په دې کښې فريق جوړېدل نۀ دي پکار. لېکن له بده مرغه د هغې وخت د اميرالمؤمنين ضياءالحق او د هغه شورائي قسم صالحينو او ملايانو صاحبانو په مزغو او سترګو د ډالرو پردې او پټۍ لګېدلې وې، روس ورته د اسلام لوئے دښمن او امريکه ورته د اسلام محافظ او ټېکه دار ښکارېدو او دغسې د امريکې مد مقابل روس د جنبوا اکارډ لاندې پسپائي اختيار کړه. نۀ صرف افغانستان ته د راتګ دپاره امريکې ته لاره هواره شوه بلکې د مد مقابل روس په ختمېدو ټوله نړۍ د يوې امريکې په رحم او کرم پاتې شوه او د امريکې د

غاصبانه پالیسۍ په وجه نۀ صرف په افغانستان کښې په لکونو د خدائے بندګان، د پېغمبر امتیان بې ګناه او معصوم افغانان شهیدان شول بلکې د دغې نه زیات تعداد کښې د خپل وطن کلي کور نه بې کوره در په در کېده په سر شول. تر ننه ورته په خپله خاوره قدم ایښودل نصیب نۀ شو.

هم دغسې د باچا خان بابا، ولي خان او د پښتنو د قافلې سالار اسفندیار ولي خان چې په افغانستان کښې د لګېدلي اور په حواله کومې پېشګویانې کړې وې هغه اور نۀ صرف پښتونخوا صوبې ته را ورسېدلو بلکې تر پنجاب او پاکستان پورې خور شو، په بازارونو، حجرو، جماتونو کښې څوک محفوظ نۀ دي، دا دهشت ګرد چا او د څۀ دپاره پېدا کړل؟ دا موضوع ډېر اوږد بحث غواړي او په لیک دوه کښې ئې احاطه کول هم زما غوندې کم علمه قلم کار د وس خبره نۀ ده. زما په ذهن خو في الحال ضرورت د دې بحث دے چې دا لګېدلے اور څنګه مړ شي؟ او د دهشت ګردۍ خلاف روان جنګ دپاره څۀ حکمت عملي پکار ده؟

له بده مرغه نن څۀ د مذهبي جماتونو مشران، څۀ د ویرې ترهې او څۀ د بائللي سیاسي ساکه بحال کولو دپاره دا اعتراض کوي چې د طاقت د استعمال په ځائے د انتها پسندو سره مذاکرات پکار دي خو د یو سیاسي کارکن او تجزیه کار په حېث د دغې سیاسي مذهبي مشرانو په کمزورې حافظه ماته افسوس راځي چې دا دومره اوږد او On the Record پراسسز د دې مشرانو نه څنګه هېر شو؟ یو خو د فضل الله تحریک د ابم ابم اې د دور حکومت پېداوار دے، دې تنکي بوټي د دوي په وخت کښې د لویې ونې شکل اختیار کړو. نن چې دوي موجوده حکومت ته کومې مفت مشورې ورکوي په دې مشورو دوي په خپله ولې عمل نۀ کوو؟ دا یو بنیادي سوال دے. بله اهمه خبره دا ده چې سوات ته د فوځ راغوښتلو مطالبه چا کړې وه؟ او د څۀ دپاره؟ دا هم په ریکارډ موجود دي چې د هغې وخت صدر مشرف او مرکزي حکومت د ابم ابم اې صوبائي حکومت په بار بار غوښتنه فوځ سوات ته رااستولے ؤ، لېکن د څۀ دپاره چې ئې راغوښتلے ؤ د جماعتي سیاسي مفاداتو په خاطر ابم ابم اې حکومت حالات زړه په زړه پرېښودل او په ایرو کښې پټ بځري باندې ئې د یو ګلاس اوبو اچولو دانسته کوشش وکړو او نۀ ئې ورسره د سنجیده مذاکراتو کوشش وکړو او د ابم ابم اې حکومت د دغې غفلت، لاپرواهۍ او بې حسۍ په وجه هاغې بځرو نن د آتش فشان شکل اختیار کړے دے او په ټول ملک کښې خور شوے دے.



تر څو چې عوامي نېشنل پارټۍ صوبائي حکومت ته د طاقت د استعمال په ځائے د مذاکراتو د لارې خپلولو د مشورو ورکولو تعلق دے نو دا خو هسې خبره ده. د تشدد برخلاف د "عدم تشدد لاره

خپلول" خو د باچا خان فلسفه او د هغهٔ د پېروکارو عقيده ده. لېکن بغض معاويه او سياسي تنګ نظرۍ د دغې مشرانو نه دا هم هېر کړي دي چې د طالبانو خلاف د اپرېشن فېصله اې اېن پي نهٔ بلکې نګران حکومت شمس الملک په وخت کښې شوې وه او کله چې د انتخاباتو نه وروستو په صوبه کښې د پيپلز پارټۍ په شمول د اې اېن پي حکومت جوړ شو نو هغوي د نګران حکومت د اپرېشن فېصله په دې دليل مسترد کړه چې اول مذاکرات پکار وي او دا هر څهٔ په ريکارډ موجود دي چې د پارټۍ دننه هم د اختلاف باوجود صوبائي حکومت د فخر افغان باچا خان د عدم تشدد د فلسفې لاندې د تحريک طالبان سوات سره په پېښور کښې د مذاکراتو سلسله شروع کړه، د هغې کاميابو مذاکراتو په نتيجه کښې ۱۶ نکاتي امن معاهده په وجود کښې راغله، په ټول ملک کښې د هغې هر کلے وشو او مټايانې تقسيم شوې. د اې اېن پي او اېم اېم اې په حواله د صوفي محمد دا بيانونه نن هم اخبارونو کښې موجود دي "جو کام اې اېم اې اور شريعت کښې دعوېدار نهٔ کرسکے سيکولر جماعت اې اېن پي نے کر کے دکهايا" د معاهدې په رڼا کښې د قومي اسمبلۍ نه د نظام عدل رېګولېشن بل پاس شو، وزيراعظم او صدر پاکستان پرې دستخطونه هم وکړل لېکن د دې هر څهٔ باوجود کله چې په ګراسي ګراؤنډ مېنګوره سوات کښې د لکونو خلقو په جلسه عام کښې د مېډيا د وړاندې مولانا صوفي محمد سپريم کورټ، هائي کورټس، جمهوريت او ټول خلق خارج از اسلام وګرځول حالانکې دا په لکونو خلق دې خوشخبرۍ اورېدلو ته راغلي وو چې موصوف به د صدر، وزيراعظم، قومي اسمبلۍ او صوبائي حکومت شکريه ادا کړي، قوم له به مبارکي ورکړي او شرخوښو ته به د وسلې کېښودو ووائي لېکن دنيا وکتل چې مولانا صېب د مبارکو او زېرو په ځائے د کفر د فتوو بوجۍ تشه کړه او ملاکنډ سوات ئې يو ځل بيا د وينو او اور ډنډ ته وګزار کړو او دغلته نه د عوامي نېشنل پارټۍ د وطن دوستۍ، قوم دوستۍ مخلصانه کوششونو او عدم تشدد په فلسفه باندې ګزار وشو. کهٔ څوک هر هر څهٔ وائي جمهوريت دے، هر چاته د اظهار رائې ازادي ده خو زما په ذهن هر باشعوره انسان به دا ګواهي او اعتراف کوي چې صوبائي حکومت او عوامي نېشنل پارټۍ د اول نه تر ننه پورې کومې فېصلې کړې دې هغه ټولې فېصلې ئې ټيک ټاک د باچا خان د عدم تشدد فلسفې او د رهبر تحريک خان عبدالولي خان د افکارو په رڼا کښې کړې دي، په هيڅ يو مقام د هغوي سياسي دانشمندۍ او فکر ماتي نهٔ ده خوړلې کهٔ څوک ورسره اختلاف لري نو دغې اختلاف ته د سياسي تنګ نظرۍ او بغض معاويه نه علاوه هيڅ نوم نهٔ شي ورکېدلے.

د دې ملک د آئين لاندې هر ناکاره عمل قابل ګرفت دے او د هر ښهٔ عمل او نېک کار پکښې مکمل اجازت دے او کهٔ څهٔ کمي بېشي پکښې هم وي خو دا جنت نهٔ بلکې دنيا ده، د پېغمبر (ص) او خلفائې راشدينو په دور کښې هم د ګناه، ثواب، ښهٔ عمل، بد عمل او جزا سزا تصور موجود ؤ خو په يو دور کښې هم د وخت د حکومت نه علاوه هيڅ يو ګروپ ته دا حق نهٔ دے حاصل چې په رياست دننه بل رياست جوړ کړي ځکه چې په يو ملک کښې دوه رياستونه جوړول تباهي، بربادي او فساد ته دعوت ورکول دي.